# انقلابي کاکا ” علي باران

ليکوال / باز خان الميار

په کوټه کې به په ځوانانو کې داسي څوک نه وي چې هغه په سياسي او ادبي حلقو کې پاتې شوی وي او هغه دي پر موضوعاتو خبرې کوي مجلس دي کوي او له انقلابي کاکا سره د يې خبره تر جنجال او کاوړه نه وي رسېدلې زما خو ورسره څو څو واره رسېدلې وه او دا خبره په دې هم ورسره رسېدله چې انقلابي کاکا خبره کوله او لوی کمال يې دا وو چې نه يې خپل عمر ته کتل او نه يې ستا و عمر ته کتل يواځينی سړی وو چې د ډېرو کلونو پر بنسټ يې ايموشنل بليک مېلينګ نه کاوو البته پر خپله خبره يې د وس تر بريده کلک ټينګار کاوو د هغه وجه ممکن دا وه چې دۀ به اکثر پر خپله خبره څه اضافه باور درلود ځکه يې هم دومره ټينګار پر کاوو د داسي وړو وړو ډېرو خبرو نښتېځلې پايله دا ګڼم چې انقلابي کاکا اے پولټيکل سړی قطاً نه وو هغه به اکثر په سياسي حلقو کې،په ادبي حلقو کې او په زدکړيالانو کې ناسته پاسته کوله او د وس تر بريده به يې سياسي او علمي خبره کوله غير سياسي خبره خو يې نه کوله بلکه د خلګو د سياسي کولو هڅه به يې هم کولو ډېر د فراخ تندي سړی وو چې سړی به ورسره متعارف شو بيا به يې چې بل ځل و ليدلی سم دم د دوست او ملګري غوندي به يې حال احوال ور سره کولی وړه او غټه پوښتنه به يې کوله بيا به يې کېف حس کړئ او کېف په رڼا کې به يې فيصله کوله چې د مجلس ګنجايش به وو نو مجلس کني رخصت به يې واخيست او روان به شو ---

علی باران سياسي سړی وو لوست يې کاوو بنيادي نظريه يې کميونزم وو ګوند يې پيپلز ګوند وو او په پيپلز ګوند کې يې ښه جوت ځای جوړ کړی وو پنځه وخته لمونځ يې کاوو صوفي وو درې ډوله مطالعه يې بېخي د نورې مطالعې په نسبت زياته کوله د کميونزم مطالعه،د مذهبی سکالرانو ليک مطالعه،د تصوف د قامي تحريک او وطن پالنې مطالعه يې د دا نورو په نسبت څه کمه کوله زما او د دۀ ميان اکثر بنده پر ډول ډول موضوعاتو وه خو ډېره به پر ولي خان او بهټو سره بندېدو دی له بهټو نه را شيوه کېدئ او زه تر ولي خان نه تېرېدم خو پر دې ټولو بندو برسېره انقلابي کاکا چې کله به هم په خپګان روان هم شو خو راتګ به يې بيا هم په خندا وو ------

څه داسي خبرې چې انقلابي کاکا به زياتې کولې او لا هغه خبره چې زما په حافظه کې دي او لا ما په يوه مانا ځينې زدکړې دي او يو څه خاطرې چې ورسره لرم هغه به له تاسو سره شريکې کړم ---

انقلابي کاکا به د زدکړیالانو په باب ویل چي د دوی خبر حتمي مه ګڼه ځکه چي د دوی طبقه نه ده مالومه ګوره له دوی څه جوړېږي چي طبقه یې مالومه شوه هغه وخت یې بیا خبره ګوره چي ښه وایي که بد -------

انقلابي کاکا به ویل چي ما ته دوه ډوله خلګ سخت خوند راکوي یو چي شتمن وي او روژه نیسي داسي خلګ پر ما سخت ګران وي او بل چي غریب وي او روژه خوري دا خلګ پر ما سخت ګران وي خو له بده مرغه دلته شتمن روژې خوري او غریب روژې نیسي د ګرانولو سړی به سخت په مشکل پیدا کوې -----

یو به یې ویل چي وس دي وي پر انسانانو ګرځه را ګرځه د دې خوی دا برکت شته که څو له شا در پسې نه راغلل لږ تر لږه دومره خو ده که چېري په مخه درغلئ نو مخ به نه در څخه اړوي ږغ به در باندي په روغ زړۀ کوي -----

بل به یې ویل چي انقلابیان د شپې تر درې بجې ویښ کښېنوه له دریوو بجو وروسته یې پخپله د زړه خبرې خولې ته راځي هغه څه به ځینې واورې چي په عادي حالت کې یې د اورېدلو امکانات ډېر لږ وي او لا ښېخي نه وي --

بل به یې ویل که څوک دي له کوم شتمن سره په کار لګیا کاوو نو اول کوشش کوه ونده ورته پیدا کړې که ونده دي نه شوه ځیني ور پیدا کولای نو لږ تر لږه دومره تنخا ځینې ور آخله څومره چي دا ریاست و یوه اوولس ګرېډه سړي ته ورکوي -----

اکثر به په هر سیمینار کې وو د هوټل ناسته یې را سره وه د کتابونو پر دکان مو سره لیدل ځای له به راتلئ اکثر به یې یوه یوه ښه زړۀ را ښکونکې خبره تر خوله را وتله انداز یې ډېر بیل وو خبره یې ډېره تفصیلي تر سړي نه شوه رسولای او اوږد دلیل به یې هم نه وایه څه وخت پس به ځیني بحث شو خبره به یې هغسي مدلله نه شوه پاتې لکه په پیل کې کله کله به یې داسي موضوع و څېړله چي په باب یې مطالعه ډېره لږ وه او لا ښېخي نه وه ----

بس دغو خبرو ته ورته سړی وو څنې یې وي اوږده سپینه ږیره یې وه لونګۍ او صدرۍ او څادر یې د ورځنۍ جامې برخه وو او په همدغه جامه کې یې نن په ورځ په ړوب کې په یوه پېښنه کې سا ورکړه خدای د یې پر ګور نور کړي یاد د یې تلپاتی وي کورنی ته د یې خدای صبر ور کړي

یاده دي وي چي صادق ژړک صاحب هم ورسره وو هغه ټپي دی خدای دي صحت ورکړي

